## د دې بېچارهګۍ چاره څه ده؟

## د افغانستان چارواکي، دېرى مخالفين او زورواکي د پرديو په ګرو کې دي!



**خبر:**

په افغانستان کې د قاطع ملاتړ ماموريت د استخباراتو عملياتي قوماندان په کابل کې له افغان خبرياالنو سره په خبرو اترو کې د سيمهييزو لوبغاړو لکه روسيې، ايران، پاکستان او چين د فعاليتونو د زياتوالی ګواښ وکړ. د قاطع ملاتړ ماموريت د استخباراتو عملياتي قوماندان ډګروال بورنز ويلي: «دا ټول هېوادونه په ملي وحدت حکومت کې د ځينو لوبغاړو، زورواکو يا طالبانو ملاتړ کوي. دغه ملاتړ په سيمه کې د دوی د نفوذ لپاره دی او دا حتمي کوي، چې کله د سولې خبرې اترې پيلېږي، له دغو کسانو څخه يو به يې د دوی د ګټو د خونديتوب استازولي وکړي.» د ده په باور د سيمې هېوادونه هڅه کوي، چې د افغانستان په راتلونکي کې رول ولري. حال دا چې د سيمې دغو څلورو هېوادونو دا تورونه رد کړي. (اريانا نيوز: ۲۰۱۷م، د نومبر ۳مه)

**تبصره:**

په افغانستان کې د امريکا او ناټو ځواکونو د استخباراتو عملياتي قوماندان دا ډول څرګندونې له يوه لوري د افغانستان د قضيې پېچلتيا په ډاګه کوي، چې امريکا او ناټو له «تروريزم او افراطيت» سره د مبارزې په پلمه د سيمهييزو او نړيوالو سياليو پر ګرم ډګر بدل کړی. له بله اړخه د افغانستان د چارواکو، وسلهوالو مخالفينو او زورواکو او سياسي مخالفينو هويت څرګندوي، چې زياتره يې د خپلو شخصي او ډلهييزو ګټو لپاره د لاسپوڅو مزدورانو په څېر د افغانستان په قضيه کې د بښکېلو هېوادونو پيروي کوي. په داسې حال کې چې د ډګروال بورنز په څرګندونو کې له خپلو مزدورانو څخه د امريکا، د ناټو غړو هېوادونو او هند د حمايوي رول يادونه نه ده شوې او په پوره بېحيايۍ يې يوازې خپل مقابل لوري (روسيې، چين، ايران او پاکستان) ته د انتقاد ګوته نيولې.

په افغانستان کې د امريکا او ناټو ځواکونو استخباراتي چارواکي په داسې حال کې دا نظر څرګندوي، چې روانه جګړه هره ورځ د وسلهوالو ځواکونو او مخالفينو په صفونو کې د سلګونو ځوانانو ژوند اخلي او په زرګونو نور نظامي او ملکي وګړي ټپيان او بېکوره کوي. هغه جګړه چې د سون توکي يې يوازې مسلمانان دي. نو پر دغه اساس واشنګټن په وروستيو کې له ملي وحدت دولت سره هوکړه وکړه، چې د افغان نظامي ځواکونو د تلفاتو په اړه معلومات پټ وساتي. دغهراز واشنګټن ټايمز ورځپاڼې په خپله نوې مقاله کې ويلي، چې د افغانستان جګړه له وړاندوينو هم سخته شوې.

د افغانستان لپاره د امريکا د بيارغونې (سيګار) د ځانګړي سرمفتش وروستی راپور هم ښيي، چې د روان کال د جولای له لومړۍ د سپټمبر تر ۳۰مې زياتې سيمې د افغانستان د اردو له ادارې وتلې او طالبانو او داعش پر دغو سيمو ولکه پيدا کړې. دغهراز د سيګار راپور ښيي، چې د افغان ځواکونو د تلفاتو په اړه هغه شمېرې چې مخکې ښکاره خپرېدې، اوس پټې ساتل کېږي. ځکه چې د امنيتي ځواکونو وروستي تلفات د دوی د صفونو د ړنګېدو لامل شوي او په سرتېرو کې يې د بېباورۍ فضا رامنځته کړې. له دې امله غواړي، چې د تلفاتو په پټولو د جګړې د دوام لپاره د نظاميانو روحيه وساتي.

د يادونې وړ ده، چې دا ټول تر ټولو لږ هغه موارد دی، چې امريکايي ادارې او د افغانستا دولت اقرار ورباندې کوي. په داسې حال کې چې حالت له هغه څه چې د رسنيو، څېړنيزو او دولتي بنسټونو په راپورونو کې انځورېږي؛ په ځلونو دردونکي او سخت دی. په دې اړه هره ورځ  د افغانستان په هره ګوښه او کونج کې ځايي خلک، د امنيتي ځواکونو سرتېري، طالبان او... مختلفې ويډيوګانې او انځورنه خپروي؛ چې په جګړه کې د ټولو ښکېلو لورو د سخت جنګي وحشت استازيتوب کوي. په داسې حال کې چې په دغه جګړه کې له ټولو اړخونو يوازيني اصلي زيانمن د افغانستان مسلمان خلک دي. له دې امله په دې وروستيو کې د مخابراتي تنظيم ادارې (اترا) د انټرنېټي خدمتونو وړاندې کوونکو شرکتونو ته امر کړی، چې ټولنيزې شبکې (وتساپ او تلګرام) د ۲۰ ورځو لپاره وتړي او د فېسبوکي او ټويټري حسابونو او ځينو ويبپاڼو يو جدول يې چمتو کړی، چې ژر تر ژره يې بند کړي.

دلته نو د افغانستان د خلکو لپاره د امریکا او ناټو د ټولو غولوونکو ادعاوو حقیقت یو په بل پسې رسوا کېږي. د بیان له ازادئ نیولې تر سولې، بشري حقونو، د ښځو حقونو، د بېوزلۍ له منځه وړلو، دولتجوړوني او بیارغوني پورې ټول د تېرو ۱۶ کلونو په جریان کې په دې خاوره کې تجربه شول؛ چې ټول له جګړې، ناامنۍ، قتل، فتنې، فساد، فحشا، فقر، رشوت او د افغانستان په قضیه کې د سیمهییزو قدرتونو له لا زیاتې ښکېلتیا پرته بل څه نه وو. نو اوس هم ناوخته نه ده، تر څو په هوښ کې راشو او د دغو بدبختیو او ناورینونو پر وړاندې له صفره پیل وکړو.

پورتنې ټول موارد په افغانستان کې د جګړې سیمهییز او نړیوال اړخونه لا زیات په ډاګه کوي، چې له امریکا سره له ستراتیژیکو او امنیتي تړونونو او په ځانګړې توګه جنوبي اسیا او افغانستان په اړه د ټرامپ د نوې ستراتیژۍ له اعلان وروسته جګړه په دې سیمه له وړاندوینو هم سخته شوې. نو په مطلق ډول د تفکر او تأمل ځای دی، چې د افغانستان خلک د پردیو د دې جګړې، چې زموږ پر وینه او خاوره جریان لري، حقیقت درک کړي او د جان کېري د دولت، مزدورو زورواکانو او په بهرنیو هیوادونو پورې د تړلو سیاسي او وسلهوالو مخالفینو پر وړاندې راپورته شي او پرېنږدي چې تر دې زیات د نورو د سیالیو ښکار شي. د افغانستان مسلمانان په پېړیو د دا ډول خاینانو په وسیله له جګړې، ګډوډۍ او فتنې سره مخ دي. دا هماغه انځور دی، چې په زیاترو اسلامي خارو کې شته دی.

رسول الله ﷺ موږ ته له پخوا راهیسې خبرداری راکړی، چې په مسلمانانو کې د دنیا د مینې او له مرګه د کراهیت په سبب د نړۍ نور ملتونه پر مسلمانانو یرغل کوي او هغوی مغلوبوي. لکه څنګه چې فرمایي:

**«يوشِكُ الأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيكُمْ كَمَا تَدَاعَى الأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا» فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يوْمَئِذٍ قَالَ «بَلْ أَنْتُمْ يوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيلِ وَلَينْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيقْذِفَنَّ اللَّهُ فِى قُلُوبِكُمُ الْوَهَنَ» فَقَالَ قَائِلٌ يا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهَنُ قَالَ «حُبُّ الدُّنْيا وَكَرَاهِيةُ الْمَوْتِ»** "سنن ابي داود: صحيح"

***"ژر ده چې (ټول) نور ملتونه به پر تاسو داسې حمله وکړي، لکه حیوانات چې پر ښکار حمله کوي."*** *له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې وپوښتل: آیا هغه مهال به د مسلمانانو شمېر لږ وي؟ رسول الله وفرمایل:* ***"نه، ستاسو شمېر به ډېر زیات وي، خو د اوبو پر سر د ځګ په څېر به وئ. هغه وخت به الله سبحانه وتعالی ستاسو د دښمنانو له زړونو ستاسو هیبت لرې کړي او په زړونو کې به مو وهن داخل کړي."*** *اصحابو پوښتنه وکړه، چې وهن څه دی؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل:* ***"له دنیا سره مینه او د مرګ بد ګڼل".***

**دا دی زموږ ننی تصویر!** نو لازمه ده، چې کورني ښکېل اړخونه او د افغانستان بانفوذه او مخلص ځواکمنان دا حدیث د خپل واقعیت عملي مصداق وګرځوي او د عبرت درس ترې واخلي، ځکه تر کله چې له دنیا سره دوستي لري، د دنیا بېپایښته ګټې یې د شرقي او غربي قدرتونو په منګولو کې اچوي. دا وینه څښونکي قدرتونه یې له خاوري، وینې او عزت څخه په نړیوالو لوبو کې د وسیلې په حیث ګټه اخلي. د دې تر څنګ، تر کله چې دا رهبران او ځواکمنان له مرګه کراهیت لري او د اشغالګرو او مزدورانو پر وړاندې مبارزه نه کوي، د نبوت پر تګلاره د خلافت د بیا تاسیس لپاره د دعوت او مبارزې ملاتړ نه کوي، ځان او د دنیا ژوند ورته غوره ښکاري؛ دا حالت به دوام مومي او له موږ څخه به په سیمهییزو او نړیوالو سیالیو کې د سون د توکو په څېر کار اخیستل کېږي.

**سیف الله مستنیر**
**د حزب التحریر- ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**